دغه رنګ مو تاسې غوره امت ګرځولي یاست چې پر خلکو ګواهان اوسئ:

شهادت

اونیزه

د حزب اسلامي افغانستان نشراتي ارګان

درس قرآن

هر څوک چې یو نفس د بل نفس له بدل څخه پرته یا یې له فساده په ځمکه کې ووژني نو ګواکې ټول خلک یې وژلي دي او هر چا چې دغه یو نفس ژوندی کړي نو ګواکې ټول خلک یې ژوندي کړي دي.

(المائدة: ۳۲)

درس حدیث

از ابو هریره (رضی الله عنه) روایت است که رسول الله (صلی الله علیه وسلم) فرمود: ((سوگند به ذاتی که جانم در دست اوست، کسی از شما نمی تواند مؤمن باشد، تا زمانی که من (پیامبر (صلی الله علیه وسلم)) نزد او از پدر و فرزندش محبوب تر نباشم.))

(صحیح البخاری)

شهادت شپږم کال، ۲۰ مه ګڼه، پرله پسې ۲۲۴ مه ګڼه سه شنبه ۱۳۹۳ هـ ل د زمری ۲۷ مه د ۱۴۳۵ هـ ق د شوال المکرم ۲۱ مه د۲۰۱۴ م د آګست ۱۸ مه

په ۱۲۹۸ کال له انګریزي استعمار نه د افغانستان د خپلواکي د ترلاسه کولو په ویاړ د هېواد ټول ننګیالي اولس ته مبارکي وایو

نور:

۴۵ درصد آرای صندوق های رایدهی مجدداً شمارش شده است

تمام صندوق های رای دهی که تفتیش و شمارش مجدد شده تعداد شان به ۱۰۲۳۱ صندوق رای دهی می رسد که ۴۵ درصد تمام صندوق های رای دهی را تشکیل میدهد.

کابل، رسانه ها: مسوولان کمیسون مستقل انتخابات افغانستان می گویند کار بالای صندوق های رای دهی در بخش تفتیش، شمارش خاص مجدد آرا و مرکز جمع بندی چک لست ها در حضور ناظرین ملی و بین المللی ادامه دارد.

نور محمد نور سخنگوی کمیسون مستقل انتخابات به روز یکشنبه در مورد آخرین انکشافات در بخش روند تفتیش، شمارش خاص مجدد آرا معلومات داده گفت، از آغاز پروسه تفتیش آرا تا ناوقت روز شنبه بیش از ده هزار صندوق رای دهی تفتیش و شمارش مجدد شده است:

" تمام صندوق های رای دهی که تفتیش و شمارش مجدد شده تعداد شان به ۱۰۲۳۱ صندوق رای دهی می رسد که ۴۵ درصد تمام صندوق های رای دهی را تشکیل میدهد. "...

(ص، ۴)

پیام تسلیت

نازنین جان مسؤول تنظیم زنان حزب اسلامی افغانستان جهان فانی را وداع گفت.

خواهر مجاهده، مهاجره و محجوبهٔ ما، نازنین جان عضو شورای اجرائیه و مسؤول تنظیم زنان حزب اسلامی افغانستان به اثر مریضی طولانی که عاید حال شان گردیده بود، بعد از تحمل دردها و رنج های فراوان بالآخره بروز شنبه ۲۵ اسد سال روان داعی اجل را لبیک گفته بدیار باقی شتافت. (انا لله و انا الیه راجعون)

شورای رهبری، اجرائیه و همهٔ اعضای حزب اسلامی افغانستان مراتب تسلیت و همدردی عمیق خویش را بمناسبت ارتحال این مربی توانا و دعوتگر راستین به خانواده، اقارب و دوستان شان ابراز و از خداوند غفور برای مرحومه طلب مغفرت و جنت فردوس را استدعا نموده، برای اقارب و دوستان شان صبر جمیل و استقامت پایدار در راه تحقق آرمانهای این همسنگر شکیبا تمنا دارد.

(روحش شاد و یادش گرامی)

افغان پانګه والو ته د کانونو قانون معرفي شو

د اقتصاد وزیر عبدالهادي ارغندیوال وایي د یوه امریکایي بنسټ له خوا شوي سروې ښیي چې د افغانستان په دېرش سلنه ځمکه کې د درې ټریلیونه ډالرو په ارزښت طبیعي زېرمې شته

کابل، رسانه ها:

د افغانستان د کانونو قانون د یوې رسمي او ځانګړې غونډې په ترڅ کې دولتي چارواکو او پانګه والو ته معرفي شو. دغه قانون یوه اونۍ وړاندې د ولسمشر حامد کرزي له خوا توشیح شو.

په کابل کې زموږ همکار سمیع الله موسی زی پخپل راپور کې لیکي، د اقتصادي سکتور دغه غونډه د افغانستان د هغه قانون د معرفي په ویاړ جوړه شوې چې تمه ده د افغانستان بې وزلي ته د پای ټکې کېږدي.

د افغانستان کانونو او پټرولیم وزیر محمد اکبر بارکزي وایي د کانونو قانون به هېواد ته د لویو کورنیو او بهرنیو پانګونو د جلب په برخه کې ډېره مرسته وکړي او میلیونونه افغانانو ته به د کار کولو زمینه برابره کړي:...

(۴ مخ)

نهضت اسلامی؛

ماضی پرافتخار، وضع نابسامان امروز و فردای مواجه با چلنجها

((نهضت اسلامی از خود آرمانی دارد و برای تحقق همان آرمان مقدس اینقدر خون داد و زحمات و مشقات را متحمل شد، نهضت باید روابط سیاسی خود با جهان را حتماً برقرار سازد؛ اما در حد مشروع آن، نه اینکه هویت و تشخص خود را دربین روابط گم کند که بالاخره از نهضت فقط نامی باقی ماند و بس. باید متوجه بود که دشمنان محلی و بین المللی در پی آن اند که ما را خلع هویت کنند و این تلاش از سالیان دراز به این سو ادامه دارد؛ ولی فقط فراست مؤمنانه ما میتواند جوابگوی این همه چلنجها باشد.))

(ص، ۲)

بادغیس :

په ترافیکي پېښه کې ۳۳ کسان وژل شوي

کابل، رسنۍ:

د بادغیس چارواکي وایي چې د دغه ولایت د آب کمري ولسوالي په مربوطاتو کې د یوې خونړۍ ترافیکي پېښې له امله د څلورو کورنیو ۳۳ تنه وژل شوي او ۱۳ کسان نور ټپیان شوي دي.

د باغیس وياند میروس میرزکوال وایي چې پېښه د شنبې په ورځ مازدیګر (۲۰۱۴م کال د اګست ۱۶مه) د آبکمري ولسوالي په چهار سنګي سیمه کې رامنځ ته شوې ده.

د میرزکوال په خبره پېښه هغه مهال رامنځ ته شوه، چې...

(۴ مخ)

قرارداد پروژه "کاسا یکهزار" در سپتمبر با مقامات قرغزستان امضا میشود

کابل، رسانه ها:

مقامات برشنا شرکت می گویند که با عملی شدن پروژه برق کاسا یکهزار افغانستان سالانه حدود چهل میلیون دالر عاید بدست خواهد آورد.

میرویس عالمی رییس تجارتی برشنا شرکت روز یکشنبه در یک نشست خبری پروژه کاسا یکهزار را برای رشد اقتصاد افغانستان مهم خواند:

" در پهلوی این برای دو سال آینده ما پروژه کاسا داریم که شما در جریان استید اسناد های تجارتی آن کاملاً آماده امضاء است که قرار بود در ماه اگست به امضا برسد، ...

(ص، ۴)

د لوی او مهربان خدای په سپېڅلي نامه

د استقلال ویاړمنه کلیزه

آزادي تـر پـاچـهـیـه لا تـیـری کـا
چې د بل تر حکم لاندې شـي زنـدان شـي

د اسد اته ویشتمه د هېواد د استقلال له ورځې سره برابره ده، زموږ اتل ولس په ۱۲۹۸ لمریز (۱۹۱۹ ز) کې د خپلو قربانیو په نتیجه کې له انګریز ښکیلاکګر نه خپل استقلال واخست او دهغه استعمارګر پوزه یې په خاورو پورې وموښله چې ادعا به یې کوله چې لمر زموږ په قلمرو کې نه پرېوزي. ددې خبرې معنا دا وه چې ټوله نړۍ زموږ تر ولکې لاندې ده.

انګریزانو درې ځله ۱۸۳۹، ۱۸۷۸ او ۱۹۱۹ ز، زموږ پر مجاهد پرورو خاوره تیری وکړ. انګریزانو د روس له احتمالي برید نه د لوی هندوستان د ساتنې له پاره دې ته اړتیا لرله چې افغانستان په خپله ولکه کې ولري؛ خو افغان ولس هر ځل ددغه ښکیلاکګر پرمخ ورتو کلی دي او د خپلو وینو په بیه یې په ډېره مېړانه سره له خپل حریم نه دفاع کړې او انګریز یې په ماته له خپله هېواده شړلی دی. انګریز په لومړی ځل په داسې حال کې له کابله ووت چې جلال آباد ته رسیده نو یواځې یو ډاکتر برایډن هغه هم په نیم ژوانده حالت کې ورسید او نور ټول متجاوز پوځ یې د افغاني غازیانو په لاسو تس نس شو، مکناټن یې د غازي محمد اکبر خان په لاس ووژل شو او کیوناری هم افغاني غازیانو په لاسو ووژل شو، همدارنګه د دوهم ځل تجاوز پر مهال هم پوه شو چې نور د افغاني غازیانو پر وړاندې د ټینګې نه دي؛ نو یې له افغانستانه پښې سپکې کړې او دریم ځل خو د افغانستان د استقلال په منلو اړ شول. انګریز هر ځل په نظامي ډګر کې ماته خوړلې خو بیا یې د سیاسي توطیو له لارې د خپلې ماتې د جبران هڅه کړې ده او دداسې مزدورو څېرو د پیدا کولو هڅه یې کړې ده چې د یوه څه مادي امتیازاتو په بدل کې یې د خپل هېواد د عزت د تر پښو لاندې کولو په ناکامه هڅه کې د استعمار مرسته ملګرتیا کړې ده، په دې کې د وخت واکمنان هم تر ټولو دمخه دي له شاه شجاع نه واخله بیا تر دوست محمد خان، محمد یعقوب خان او عبدالرحمن پورې چې له انګریز سره یې ډېرې ذلیلانه لوزنامې لاسلیک کړې دي چې تر دا نه پورې یې افغان ولس په اور کې سوځي.

دلته یو بل تاریخي واقعیت د یادولو دی. کله چې تنصیری لښکرې چې د مسلمانانو پرخلاف یې صلیبي جګړې پیل کړې وې (۱۲۹۱ – ۱۰۹۵ ز) د غازي سلطان صلاح الدین (رح) په قیادت د مسلمانانو له خوا وځپل شوې او ماتې شوې د سلطان (رح) تر وفات وروسته چې یو ځل بیا دغه تنصیری لښکرې سیمې ته راغلې؛ نو یو فرانسوی جنرال د سلطان قبر ته ورغی او پرې یې غږ کړ چې صلاح الدینه! تا خو موږ وشړلو؛ خو موږ بیا راغلو؛ خو متأسفانه دا مهال په مسلمانانو کې بل صلاح الدین نه و موجود. دا چې وایي تاریخ تکرارېږي اوس یې موږ عملا ګورو؛ خو دا ځل داسې چې ښه راغلاست هم ورته وایو.

البته تاریخ زموږ د ولس د رشادتونو په اړه یوه ستره جفا دا کړې ده چې د ولس اتلولی یې همېشه په یوه کس پورې غوټه کړې دي، حال دا چې د ازادۍ غوښتنې په جهاد او مبارزو کې وینه ولس ورکړې؛ نو پر دې اساس موږ د خپلو ټولو هغو شهیدانو د وینو درناوی کوو چې د هېواد د خپلواکۍ د ساتنې یا لاس ته راوړنې په لار کې یې د ستر رب حضور ته نذرانه کړې دي او په درناوي سره د خپلو هغو مجاهدینو یادونه کوو چې په یوه اسلامي او ازادۍ غوښتونکې روحیه د مبارزې ډګر ته راوتي دي.

داسې نه ده چې انګریز راغی او موږ د خپل استقلال لپاره ورسره وجنګیدو، روسان راغلل، موږ د قربانۍ ډګر ته ودانګل؛ بلکې هر وخت چې زموږ استقلال ته ګواښ متوجه کېږي، دا که د هر چا له خوا وي، زموږ ولس باید خپله دیني او ملي دنده هېره نه کړي. موږ په داسې حال کې له انګریزي ښکیلاک نه د خپلې خپلواکۍ کلیزه نمانځو: د خپلو شهیدانو ارواو ته درودونه استوو او غازیان مو ستایو چې لا هم زموږ د استقلال پر سپېڅلې څېره په یوه ډول نه یوه ډول د ښکیلاک ناولې ګرد پروت دی. له دغه حالته د موفقانه عبور په اړه زموږ د ولس هر وګړی مسؤولیت لري، باید خپل مسؤولیت وپېژني او په ادا کولو کې یې یوه شیبه هم غفلت ونه کړي.

ژوندې دې وي اسلام او زموږ مسلمان ولس
ښاد، آباد او خپلواک دې وي افغانستان
تل دې وي استقلال

فدا محمد فایض

نهضت اسلامی؛

ماضی پرافتخار، وضع نابسامان امروز و فردای مواجه با چلنجها

شهید مهندس حبیب الرحمن

هدفم از تحریر این سطور ذکر تاریخچهٔ نهضت اسلامی نیست، بلکه اشارات مختصری به ارتباط جهاد و مجاهدین و نهضت اسلامی و گویا گوشزدی به رهروان راستین نهضت است، آنانی که راه خود را به نحوی از خط فکری نهضت جدا کرده اند حساب شان جداست.

غرب در سال ۱۹۸۸ بتاریخ ۱۴ اپریل دشمنی آشکار خود با مجاهدین افغان را بنمایش گذاشت، البته ازین واقعیت هم چشم نمیپوشیم که غرب در زمان حیات شوروی که مجاهدین افغان با شوروی و ایادی اش در افغانستان در نبرد بودند از جهاد و مجاهدین افغانستان علی الظاهر حمایت میکرد، چون غرب، شوروی و کمونیزم را ازینکه یک قوت جهانی بحساب میرفت دشمن درجه اول خود حساب میکرد؛ اما اینکه شوروی بدست مجاهدین افغان شکست خورد و میخاییل گرباچوف آخرین فرمانروای شوروی با آنکه سیاستهای گلاسنوست و پروستاریکای او هم دردی را به نفع شوروی دوا نکرد، موضوع افغانستان را برای شوروی زخم خونین خواند و تصمیم به برآمدن از افغانستان گرفت، با آنکه سران حزب دموکراتیک به مسکو رفتند و الحاح کردند که شوروی نباید قوای خود از افغانستان را بیرون کند: ولی گرباچوف تصمیم گرفته بود؛ زیرا میدانست که اگر درین امر از تعلل و تعطل کار بگیرد، به زیان بیشتر شوروی خواهد انجامید؛ ولی از آنچه گرباچوف هراس داشت، همان شد و شوروی به انحلال رفت و کمونیزم بحیث یک ایدیولوژی به اصطلاح انقلابی که عکس العملی بود در برابر نظام سرمایه دارانهٔ غرب، شکست خورد؛ اروپای شرقی آزاد گشت، خط برلین شکست و ملتهایی که بیش از هفتاد سال در زیر یوغ شوروی و کمونیزم بسر برده بودند استقلال خود را یافتند و این استقلال بدون هیچگونه شک و شبه مرهون منت فداکاریهای مجاهدین افغانستان بود. عجیب است که شوروی هم زور مجاهدین افغان را درک کرد و غرب هم؛ ولی خود مجاهدین زور و قوت خود را تشخیص کرده نتوانستند. شوروی بعد از شکست زخمهای خود را می لیسید و به اصطلاح در لاک خود فرو رفته بود: اما غرب که از یک طرف رقیب نظامی اش شوروی بدست مجاهدین افغان شکست خورده بود و از سوی دیگر مجاهدین خود را درست نتوانستند تنظیم کنند فرصت خوبی یافت تا برای براندازی یک دشمن دیگر خود که عبارت از مجاهدین افغان بود طرح بریزد.

در سال ۱۳۷۱، حکومت حزب دموکراتیک هم بعد از سه سال مقاومت بعد از خروج روسها در برابر مجاهدین با شکست مواجه گردید؛ اما از یک سو غرب برای تضعیف مجاهدین دست از هر نوع همکاری با آنان کشید و از سوی دیگر پیمان پشاور (۴ ثور ۱۳۷۱) بالای مجاهدین تحمیل شد که بعدها دیدیم که نتایج خوبی ببار نیاورد و همین پیمان ناقص زمینه را برای مخاصمت ها بین مجاهدین مهیا ساخت که این جنگها هنوز هم طعنه یی است به مجاهدین؛ حتی آنانی که در گرما گرم جهاد در عشر تکده های غرب زندگی میکردند امروز از آن صحنه ها به مجاهدین طعنه میدهند و کمونستها که در خون بیش از دو میلیون شهید ما شریک هستند، هم تبر شان دسته یافت و آنها هم مجاهدین را ملامت میکنند. این همه کاستیها از همانجا نشأت میکند که مجاهدین خود متوجه فردای خود نشدند و یک عده افراد مصروف خودسازی فقط خود شدند.

امروز کشور ما در منجنیق عذابهای دیگر گیر مانده است و دشمنان سوگند خوردهٔ اسلام و مجاهدین در پی آن اند که چگونه بتوانند مجاهدین را کاملاً از صحنهٔ سیاسی و نظامی افغانستان حذف کنند. کنفرانس بن (۲۰۰۱) زمینه را برای آن مهیا ساخت تا مجاهد و غربی و کمونست و ناسیونالست وغیره را بر سر یک سفره بنشاند، هدف عمده در اینجا این بود که آخرین سنگر غرور مجاهدین را هم درهم کوبند و زمینه را در فردا به نظام لائیک هموار کنند. دشمنان سوگند خوردهٔ اسلام و مجاهدین میدانند که افغانستان یک کشور اسلامی است که روانشناسی و جامعه شناسی ملت افغان با تمام ملتهای مسلمان دنیا تفاوت آشکار دارد، فلهذا غرب میداند که به یکبارگی آوردن نظام لائیک در افغانستان ممکن نیست، باید این کار به آهستگی به پیش برود؛ ولی ما مظاهر یک نظام لائیک را در کشور خود می بینیم. گرچه ظاهراً شکایت زیاد از فساد اداری است؛ ولی این فساد اداری ما در فسادهای دیگر است؛ ما شاهد فساد اقتصادی هستیم. شاهد فساد اخلاقی و فرهنگی هستیم، فروش مشروبات الکلی و استعمال آن امروز در کشور ما یک امر عادی گشته است، انحرافات اخلاقی بحد اعلای آن رسیده است، حتی که از سوی خارجیها در شهر کابل مراکز فساد اخلاقی ساخته شد، نشراتی که از سوی رسانه های تصویری و کیبلی صورت میگیرد، دولت ما چشمهایش را بست و در گوش هایش پنبه گذاشت که من هیچ چیزی را نمی بینم و نمی شنوم. تلفونهای مبایل با آنکه تسهیلات زیادی در زندگی مردم بمیان آورد؛ ولی در نشر فساد اخلاقی بخصوص در بین قشر جوان نقش بسیار اثرگذاری بازی کرد و بازی میکند. مثالهای آن بیرون از شمار است که درین مقال نمیگنجد و هموطنان عزیز ما شاهد موارد بیشماری ازین انحرافات با استفاده از تلفون همراه یا مبایل هستند. غرب هم برای آنکه چنین موارد کنترول شده نتواند، یک دولت ضعیف را به ما به ارمغان آورد و نگذاشت تقویت یابد و در پی حاکمیت قانون برآید. مسألهٔ مواد مخدر داغ دیگری است که بر پیشانی ما حک شده است، و بهمین ترتیب ما در تمام ابعاد زندگی خود شاهد نابسامانیهای عدیده هستیم. اکنون حرف این است که بخصوص قوتهای جهادی و وارثین نهضت اسلامی بر سر دو راهی قرار گرفته اند؛ یا باید جداً تصمیم برای احیای مجدد و تقویت نهضت اسلامی بگیرند، و خود را برای مبارزه با این نابسامانیها که هم نسل موجود ما را تهدید میکند و هم نسل آیندهٔ ما را، آماده کنند و یا اینکه با خداحافظی با ماضی پرافتخار خود، خود را تسلیم مرگی کنند که از سوی دشمنان اسلام برای رهروان نهضت در کمین نشانده شده است.

نهضت اسلامی از خود آرمانی دارد و برای تحقق همان آرمان مقدس اینقدر خون داد و زحمات و مشقات را متحمل شد، نهضت باید روابط سیاسی خود با جهان را حتماً برقرار سازد؛ اما در حد مشروع آن، نه اینکه هویت و تشخص خود را درین روابط گم کند که بالاخره از نهضت فقط نامی باقی ماند و بس. باید متوجه بود که دشمنان منطقوی و بین المللی در پی آن اند که ما را خلع هویت کنند و این تلاش از سالیان دراز به این سو ادامه دارد؛ ولی فقط فراست مؤمنانه ما میتواند جوابگوی این همه چلنجها باشد.

زندگی نامه شخصیت سیاسی و اجتماعی مرحوم سید عبدالواحد ذاکر

سید عبدالواحد ذاکر فرزند سید عبدالروف متولد سال ۱۳۳۳ هـ در قریه سادات سنگاب ولسوالی کشم ولایت بدخشان بوده. چون در یک خانواده علمی و فرهنگی متولد گردیده و بخش علوم دینی را از آوان کودکی نزد پدرش خوانده، وی در سال ۱۳۴۱ هـ ش شامل مکتب ابتدائیه پشتون یار در جرشاه بابا ولسوالی کشم شد. که در جریان تحصیل وی ابتدائیه به متوسطه و متوسطه به لیسه ارتقا نمود که از صنف اول الی صنف دوازدهم اول نمره صنف خویش بوده است و دوره مکتب خویش را در همین مکتب به پایان رسانید. در جریان تحصیل در همین کانون علمی و فرهنگی به صف حزب اسلامی افغانستان پیوست و تحت رهبری داکتر محمد عمر شهید مبارزه را آغاز نمود و دلیرانه به پیش رفت.

در سال ۱۳۵۴ هـ ش از صنف دوازدهم فارغ گردید و بعد از سپری نمودن امتحان کانکور در مرکز ولایت بدخشان به تربیهٔ معلم ولایت بلخ کامیاب شد. در جریان تحصیل در تربیه معلم مذکور به صفت منشی جوانان حزب اسلامی بطور مخفیانه در تطبیق قانون قرآن ایفای وظیفه نمود. در سال ۱۳۵۶ خورشیدی از تربیه معلم فارغ گردید و به صفت معلم در مکتب شاخدان ولسوالی کشم ولایت بدخشان تعیین بست گردید. چون به دوره مکلفیت عسکری برابر شد و دوره مکلفیت عسکری برای معلمین مدت شش ماه بود دوره عسکری را در فرقه ریشخور کابل سپری نمود و در سال ۱۳۵۷ کودتای حزب خلق صورت گرفت و سرانجام بعد از گذشت چند ماه مرحوم سیدعبدالواحد ذاکر بنابر فعالیت های حزبی اش دستگیر و مدت دوماه در زندان پلچرخی زندانی گردید و بعد از برائت حاصل نمودن از زندان مذکور بطور مخفیانه به ولسوالی کشم باز گشت و مبارزهٔ مسلحانه خویش را ادامه داد و در صدد ساختن یک جبهه و ساختار جبهه شد.

موصوف در اثر مریضی مدهش که عاید حالش گردیده بود در سال ۱۳۶۴ به عمر سی سالگی چشم از جهان پوشید، قبر ایشان در دهن دره سنگاب می باشد.

(روحش شاد و یادش گرامی باد)

✍ عبیدالله صافي

که هدف د اولس خدمت وي: نو بیا اختلافات د څه لپاره؟!

دا یو څرګند واقعیت دی چې د دویم پړاو په ټاکنو کې له وړاندېنه مهندسي شوی پراخ تقلب شوی. او د افغانستان هر وګړی بشپړ مالومات لري چې په ټاکنو کې څه ډول او څومره درغلۍ شوي دي، ددغو درغلیو راویان پخپله هغه افغانان دي چې د رأیو مرکزونو ته ورغلي او هلته یې هر څه پخپلو سترګو لیدلي او کتلي دي، هغه چا چې د یوې رأی پر ځای څو څو رأیې اچولي دي پخپله خو له خپلو دوستانو ته دهغه کیسه کړې او هر چېرته یې په ډېر فخر سره ویلي دي چې ما د خپل خوښې نوماند ته دومره او زما ورونو دومره دومره زیاتې رأیې اچولي دي، هغوی د تقلب هغه رازونه هم بربنډ کړي دي چې د ټاکنو د کمیسیون کارکوونکو د رأیو په محلونو کې ترسره کړي دي.

د دویم پړاو ټاکنو ته شفافې او رڼې ټاکنې ویل پخپل ضمیر پښه اېښودل او پر دوه کوټو د لمر پټول دي چې په هیڅ حالت کې با ضمیرو او غیرتي افغانانو ته د قناعت وړ نه دی، پکار خو دا وچې داسې نه وای شوی او له وړاندېنه د رڼو ټاکنو د ترسره کېدو لپاره ټول لازم او اړین اقدامات شوي وای؛ خو دا چې داسې ونشول او د مغرضو کړیو په هڅو له درغلیو نه ډکې ټاکنې ترسره شوې؛ نو له دغو ستونزو څخه د نجات د ترلاسه کولو ستر مسؤولیت څکه دوه مخکښو نوماندانو هر یو ډاکتر عبدالله عبدالله او اشرف غني پر سر دی، چې د هېواد په سلو کې ۹۰ وګړي د دواړو نوماندانو تر شا ولاړ دي او همدوی ته سترګې پر لاره دي چې ددغې لانجې داسې یوه هر اړخیزه مثبته نتیجه راوباسي چې د ملت ستونزې حل او هېواد د ثبات، امن او استحکام په لور ګامونه واخلي. که چیرته دواړه ډاکترصاحبان اولس ته رجوع وکړي او دهغوی درد، غم، پریشاني او غربت له نږدې وګوري؛ نو دوی ته به معلوم شي چې اولس څومره د غمونو او دردونو په ډنډ کې غرق دی؛ نو څکه دواړو ډاکترانو ته پکار دي چې د خپلو هغو مخصوصو ملګرو سره د سلامشورو پرځای چې صرف اقتدار ته یې سترګې پټې کړي دي د خپل قوي حامي اولس فریاد او ستونزې په نظر کې ونیسي، ملت دواړو نوماندانو ته په دې نیت خپلې رأی ورکړي او سلاتړ یې کړی دی چې دوی به د اولس ستونزې حلوي او هېواد ته به له موجوده ستونزو څخه خلاصون ورکوي. که واقعاً د ملت د خدمت او خیرخواهي جذبه موجوده وي؛ نو بیا ملت ته د دواړو نوماندانو ترمنځ دغه درددوونکي اختلاف د زغملو نه دي. اوس چې ددواړو مشرانو ترمنځ کوم له زغم نه وتلی کشمکش روان دی او هره ورځ نوي نوي ناامیده کوونکي اختلافي ټکي رامنځته کېږي په ولسي وګړو کې ددوی دواړو د مقبولیت ګراف نور هم کمېږي. د ولس زیاتره وګړي پر دواړو نوماندانو کلکې نیوکې کوي او همدا دلیل وړاندې کوي چې که چېرته له دوی سره د اولس د مشکلاتو غم وای: نو خپلې ټولې ټاکنیزې ستونزې به د وروری په فضا کې حل کړی وې او ملت ته به یې هره ورځ نوي نوي ستونزې نه پیدا کولې. سیاسي پوهه دا نه ایجابوي چې دواړه مشران د یو بل د لاندې کولو لپاره ملت په اور کې ودروي او دهغوی ارمانونه خاورې ایرې کړي؛ بلکې د دواړو مشرانو سیاسي قابلیت دا دی چې د ملت د خیر ښېګڼې او ګټو په خاطر پر خپلو غوښتنو ټینګار ونه کړي او خپل خواهشات د ملت د خواهشاتو قربان کړي: څکه چې زموږ هېواد په یو داسې نازک او مړ ژواندي حالت کې قرار لري چې یوه معمولي سیاسي چټکه هر څه دړې وړې کولای او د نابودۍ کندې ته یې غورځولای شي. په هېواد کې د اور بلولو لپاره دښمنانو تیل له وړاندېنه پاشلي دي. که الله مکره دښمن زموږ د سیاسي ناهلتوب له لارې د اور لګید د یوې تیلی په لګولو بریالی شي؛ نو د افغانانو ټولې قربانۍ به په اوبو لاهو شي. نه به بیا حکومت وي نه مشران. نه به سیاست وي او نه هم د سیاست ډګر؛ بلکې هر څه به د پردیو په لاسو کې وي. افغانان به یو ځل بیا له ډول ډول بې عزتیو، هجرتونو او مرګونو سره لاس او ګریوان وي. استقلال به یې تل لپاره تر پښو لاندې کېږي او د غلامی کړی به په غاړو کې ګرځوي. ددغو حساسو حالاتو په نظر کې نیولو سره سیاسي مشرانو ته پکار ده چې د ضد، لویې غوښتنې او د یو بل د حذفولو فکر له ذهنه وباسي، خپله ټوله پاملرنه په سلو کې سل د اولس او هېواد د پرمختګ لپاره وقف کړي. قومي او مذهبي تعصب چې د دښمنانو له خوا ورته لمنه وهل کېږي او له بده مرغه زیاتره افغانان هم د قومي عصبیتونو په لومه کې نښتي دي له جرړې وباسي پخپلو کې یو بل ته د اسلامیت، افغانیت او وروری مضبوط لاسونه ورکړي، د اتحاد او یووالي په منظم صف کې دی ودرېږي. په ټولو ملي او بین المللي مسایلو کې دی یو دریځ ونیسي، ټول مشران دی د هېواد په ګوټ ګوټ کې د ملي یووالي بیرغونه ورپوي او په هر ځای کې تعصب ته پکه وهونکی له خپل صف نه لرې او خنثی یې کړي، مشران دی دا حقیقت درک کړي چې دوی د خپل هېواد د استحکام او د استقلال د ترلاسه کولو لپاره همدا وروستی چانس په لاس کې لري، د دښمنانو کوښښ آخري حد ته رسیدلي، ټولې توطیې او دسیسې تر لاس لاندې دي، هغوی هره شېبه د افغانستان د تباهۍ خوبونه ویني او انتظار لري چې ډېر ژر خپلو شومو اهدافو ته ورسېږي، ملت خپل مسؤولیت ترسره کړی د خاورې او عقیدې په ساتلو کې نه هیرېدونکې قرباني ورکړې او اوس هم په بشپړ جرئت لګیا دی د خپلو ککریو پر بیه د خپلې خاورې او عقیدې ساتنه کوي، د ټاکنو پر وخت په ډېر جرئت د رأیو صندوقونو ته ورغلي او د هېواد د برخلیک ټاکلو حق یې په مطلق ډول دوه مخکښو کاندیدانو ته ورکړی، اوس د دواړو نوماندانو او دهغوی د مشرانو وجیبه ده چې د خپل غیرتمند اولس د رأیو احترام وکړي دهغوی ستونزې په نظر کې ونیسي او په یوه سترګه ورته وګوري؛ نه دا چې پخپلو کې د دوه ښو په ځېر شي او یو بل ته د د دښمن په نظر وګوري او د یو بل د حذفولو پلانونه جوړ کړي، د قیادت ډګر د مشرانو په واک کې دی د خپلې مشرۍ د قابلیت ثابتولو وخت همدا اوس ورته مساعد دی، د تاریخ په پاڼو کې د ښه نوم او بد نوم د ګټلو ورځې همدا دي د ښه قیادت او بد قیادت له ازمیښت سره همدوی مخامخ دي. که د ملت ښه راتلونکی غواړي او دویم ځل لپاره بیا له ملت سره د سترګو لګولو هیله لري؛ نو همدا یې وخت دی بیا ورته دا طلایي چانس په لاس نه ورځي، که ملت یو ځل څوک مسترد کړي بیا هغه کله هم سر نشي اوچتولی او تل لپاره یې د ردی په ټوکری کې غورځوي، که چېرته دواړه نوماندان او ورسره ملګري مشران له تاریخ نه عبرت واخلي او په ډېر ذکاوت او زیرکتیا ملت له دې بحران څخه راوباسي؛ نو ملت به هم سرلوړی وي او دوی هم؛ خو که خدای ناخواسته د ازمیښت په دې ډګر کې خپل اهلیت ثابت نه کړي؛ نو پخپل اولس کې به هم ځای نه لري او د تاریخ په پاڼو کې به هم په ښه نوم نه یادېږي.

ښه به دا وي چې دواړه ډاکترصاحبان د خپل اولس محبوبیت له لاسه ورنکړي او په ګډه د وروری په فضا کې د افغانستان د کړیدلي اولس ستونزې حل او افغانستان د امن او استحکام په ځانګو بدله کړي. څکه چې په فعلي شرایطو کې د افغانستان د کړیدلي ولس تر ټولو لوی خدمت همدا دی او له دې اخوا هر اوچت شوی ګام د افغانانو په تاوان او له هېواد سره خیانت دی چې په هیڅصورت کې د بښلو نه دی.

ښایي د ملي وحدت فرصت له لاسه ورنکړو!

✍ فروغګر

د ۱۳۹۳ کال د حمل د میاشتې په ۱۶ نېټه چې د ولایتي شوراګانو او جمهوري ریاست د ټاکنو لپاره ضرب الاجل ټاکل شوی و او په همدغه نیټه انتخابات ترسره شول، زموږ ملت نړیوالو ته وښووده چې له دومره ګڼو ستونزو او سترو بحرانونو سره سره چې زموږ ملت او هېواد د څو لسیزو په ترڅ کې شاته پرېښوول، بیا هم ددې ملت پر بنسټیز اجتماعي او انساني تهذیب باندې منفي اغیز نه دی پرېوتی او دا ملت هماغه مهذب ملت دي چې د پیړیو په اوږدو کې یې فقط د یرغلګرو او متجاوزو ځواکونو په وړاندې په مړانې سره د مقاومت او جهاد ډګر ته وتلی دی او له چنګیزه تر انګریزه او بیا له هغه تر روسه یې هر خپل سر او طاغي قوت ته غاښ ماتوونکی ځواب ورکړی، د نړیوالو د انګېرنو پرخلاف په دې انتخاباتو کې ښځې، نارینه، پیغلې او ځوانانو په خورا پاک نیت برخه واخیستله او د خپلې ګانډې د رڼولو لپاره یې خپله سیاسي زیرکتیا تجربه کړه. دغه ټاکنې په دومره بریا پای ته ورسیدې چې د نړۍ رهبرانو د هېواد جمهور رئیس ته د مبارکۍ پیغامونه ولېږل. داخلي او بهرنیو رسنیو یې په بدرګه کې غټې غټې تبصرې ولیکلې او تر څو ورځو پورې یې نړیواله میډیا مصروفه ساتلې وه: په افغانستان کې د بهرنیو میشتو ځواکونو مشرانو په خپلو څرګندونو کې وویل چې افغانانو ددې ټاکنو په پای ته رسولو سره خپلو دښمنانو ته د رد ځواب ووایه او هغوی یې په دې پوه کړ چې نور نشي کولی د زور زیاتي په اعمال سره پر دوی حکومت وکړي.

کله چې ددې ټاکنو پایلې اعلان شوې دوه مخکښ نوماندان د ټاکنو دوهم پړاو ته لاړل.

د ټاکنو په دوهم پړاو کې د ډېرو کړیو د انګېرنو پرخلاف یو ځل بیا زموږ مهذب ملت خپل اجتماعي او مدني اخلاق نړیوالو ته په خپل وحدت، یووالي او قربانیو کې وښود او د لومړي پړاو په څېر یې په دوهم پړاو کې هم په پراخه پیمانه ګډون وکړ: خو له بده مرغه پایلې هغسې جوتې نشوې لکه چې زمونږ د ملت تمه ترې کېدله، یو لړ ستونزې رامنځ ته شوې او ملت ته یې په دې اړه خو راڅورې اندېښنې رامنځ ته کړې؛ خو له لنډې مودې وروسته د جمهوري ریاست د دوو مرستیالانو (محمد یونس قانوني او خلیلي) په وساطت سره او همدارنګه د نړیوالې ټولنې په منځګړیتوب دغو ناندریو ته د پای ټکی کیښودل شو او دواړه نوماندان د ملي وحدت حکومت په جوړولو سلا شول، تر دې مخکې زموږ رسنیو په دې جهت کې ډېر تبلیغ کاوه چې زمونږ ټولې ستونزې به دې کې دي چې په تېرو لسیزو کې زموږ ملي وحدت ته خورا زیانونه اووښتي او تر هغه چې دا وحدت تأمین نشي، زمونږ اولس به له راز راز اجتماعي، اقتصادي او سیاسي ستونزو سره ډغرې وهي، په دې معنی چې د رسنیو او عامه ذهنیت رجحان دا و چې ملي وحدت باید تامین شي، موږ لیدل چې زموږ د ملي وحدت دښمنانو، ددې لپاره چې زموږ ملت بیا یو موټی نشي؛ یوازې د ۱۳۹۲ هـ ش کال په اوږدو کې زموږ ۵۲۳ تنه ملي مشران، د جرګو، مرکو او فیصلو وګړي په خورا قساوت سره ووژل، استاد رباني د جمعیت اسلامي مشر او د سولې د عالي شورۍ رئیس د همدغو توطیو قرباني شو او زموږ ډېر ستر شخصیتونه د دښمن هدف وګرځېدل.

مګر اوس چې د ملي وحدت د حکومت سناریو رامنځ ته شوې او هغه دی په جدیت سره کار پرې روان دی، زموږ هماغه رسنۍ چې د ملي وحدت په جهت کې یې د ترکیز او ټینګار تبلیغات کول، اوس د ملي وحدت حکومت د جوړېدا په وړاندې عجیبې او غریبې تبصرې کوي او د بصیرت خاوندانو ته دا ذهنیت ورکوي چې خدای مکړه دغه رسنۍ هم د دښمن تر نظارت لاندې چلېږي او د دښمن اجنډا پلې کوي، منو چې دا ډول حکومت د نړۍ په سیاسي قاموس کې سابقه نه لري؛ خو که افغانانو دا ابتکار وکړ، خو ابتکار یې یو سیاسي جوړښت رامنځ ته کړ چې د تقدیر وړ ګڼل کېږي نه د غندلو.

ټاکنیزې چارې د وروړګلوۍ، اخوت او روا دارۍ په فضا کې پرمخ ځي او ان شاء الله هغه ورځې لرې نه دي چې موږ به خپل هېواد کې د نوي حکومت د منځ ته راتګ شاهدان واوسو او زموږ ملت په نوی عزم او راسخې عقیدې سره یو ځل بیا د خپل هېواد د رغولو او بیا رغولو په هوډ د کار ډګر ته ووځي، نهیلي نه دی په کار څکه د خدای له رحمته ناامیده کیدل کفر دی، خدای به هر څه سنبال کړي؛ نه ګورئ چې زمونږه د ملي بریو په وړاندې زموږ دښمن د هېواد په نږدې ټولو ولایاتو کې د جګړو، تاوتریخوالو او ورانیو لوی توپان راپارولی او هره ورځ زموږ بې ګناه ولس وژني؛ علت یې واضح دی چې دسمن هیڅ کله نه غواړي افغانان په سیاسي، اجتماعي، اقتصادي او بالاخره ملي لحاظ په خپلو پښو ودرېږي، نو د وحشت، دهشت او ترور له لارې غواړي زموږ د بریو پر وړاندې خنډونه جوړ کړي.

په دې لړ کې مانه د هېواد د اقتصاد د وزیر ښاغلی عبدالهادي ارغندیوال د تېرې هفتې ورځې څرګندونې خورا خوند راکړ چې دواړو نوماندانو ته یې د یوې داسې چاڼیزې کومیټې د جوړولو وړاندیز وکړ چې په راتلونکي حکومت کې ښایي د حکومت لوړ رتبه چارواکي ددغې کومیټې له تزکیې وروسته پر کار وګومارل شي، څو راتلونکی حکومت د اداري او اجتماعي فساد له بلا سره لاس او ګریوان نه وي.

دعا کوو چې الله جل جلاله دې زموږ د مشرانو په وروستیو پریکړو کې د صادقانه عمل برکت واچوي او زمونږ د ملت دغه توپان ځپلې کښتۍ دې د بري ساحل ته وباسي.

شهادت
اونیزه
د حزب اسلامي افغانستان نشراتي ارګان

خپرونکی اداره: د حزب اسلامي افغانستان فرهنګي څانګه
د امتیاز خاوند: حزب اسلامي افغانستان
مسؤول مدیر: عبدالله "کامه وال"
مرستیال مدیر: عبدالخلیل (خلیل)

د اړیکو شمېرې
دفتر: ۰۲۰۲۵۷۱۲۳۲
مسؤول مدیر: ۰۷۷۷۲۰۲۲۰۱
۰۷۰۰۲۰۲۲۰۱

• د شهادت اونیزه د هر لیکوال او د نظر خاوند د لیکنو هرکلی کوي
• د شهادت اونیزه حق لري چې د لیکوال لیکنه د ضرورت په وخت داسې اصلاح کړي چې د لیکنې اصل روح ته تاوان ونه رسي
• رالېږل شوې مطالب نه مستردیږي. بوازې سرلیکنه د شهادت د اونیزې رسمي نظر دی

ډیزاین: خواجه وحیدالله | آدرس: دحزب اسلامي افغانستان مرکزي دفتر، د شاداب ظفر بلاکونو شاته، خوشال خان مېنه - کابل | Email Add: shahadatnews.kabul@gmail.com

افغانستان د نړۍ په رسنیو کې

نړیوالو ورځپاڼو په پاکستان کې د روانو لاریونونو په اړه مطالب خپاره کړي

وال سټریټ ژورنال:

وال سټریټ ژورنال د پاکستان په پلازمېنه اسلام آباد کې د خلکو د لاریونونه په اړه یو مطلب خپور کړی چې؛ په یوه برخه کې یې راغلي، زرګونه پاکستانیانو داسې مهال د صدراعظم نواز شریف د حکومت د ختمېدو په هدف لاریونونه کړي چې؛ د دغه هېواد ستره محکمې د اساسي قانون د هر ډول سرغړونې په اړه خبرداری ورکړی دی.

د پاکستان د تحریک انصاف ګوند مشر عمران خان چې د دغه هېواد د کرکټ یو ستوری و؛ ادعا کوي چې، د ۲۰۱۳ کال په انتخاباتو کې چې نواز شریف وګټل؛ ډېرې درغلۍ شوي دي.

وال سټریټ ژورنال د عمران خان د یوه پلوي دوه ویشت کلن حمید په حواله لیکي چې؛ په انتخاباتو کې یې زما رایه غلا کړه؛ اوس د خپلې رایې د اخستلو لپاره راغلی یم.

ورځپاڼه د عمران خان له قوله لیکي چې تر هغو به خپلو اعتراضونو او لاریونونو ته دوام ورکوي چې؛ اوسنی صدراعظم له خپلې دندې لیرې شي.

د ورځپاڼې په باور که څه هم عمران خان ادعا کړې چې میلیونونه کسان به په دغو لاریونونو کې راټولوي؛ خو وایي تر اوسه د مظاهره کوونکو شمیر څو زرو ته رسېږي.

وال سټریټ ژورنال د هغو مظاهره کوونکو شمیر چې ډېری یې د پاکستان له نورو ښارونو څخه په اسلام آباد کې راټول شوي؛ شاوخوا اویا زره ښيي.

په مطلب کې راغلي چې، د خلکو دغو مظاهرو د پاکستان د پوځ د مداخلې په اړه ویره راپورته کړې ده.

ورځپاڼه لیکي نواز شریف د پارلمان اکثریت خو کې لري او د هغه حکومت یوازې د پوځ په مداخله له منځه تلای شي.

د پاکستان سترې محکمې د شنبه په ورځ د یوې اعلامیې په خپرولو د دغه هېواد له حکومت او پوځ څخه غوښتي چې؛ د پاکستان د اساسي قانون سره سم ګام واخلي.

د پاکستان سیاستوال په پراخ ډول په دې تمه دي چې؛ د عمران خان او نوازشریف د حکومت ترمنځ سوله ییزه معامله وشي چې؛ په هغه کې انتخاباتي اصلاحات او په ځینو حوزو کې د رایو بیا شمېرل هم راځي.

ایکنامیک ټایمز ورځپاڼې هم د پاکستان د وروستیو لاریونونو په اړه لیکلي چې عمران خان او طاهر القادري چې د نواز شریف دوه سیاسي مخالفین دي؛ د مظاهرو په پیلولو سره غواړي اوسنی صدراعظم استعفی ورکړي او نوي انتخابات دې وشي.

ورځپاڼه لیکي مظاهره کوونکي چې زرګونو تنو ته رسیږي په اسلام آباد کې راټول شوي او له نواز شریف څخه غواړي؛ له دندې لیرې شي.

نواز شریف د پاکستان د تیر کال په پارلماني انتخاباتو کې ډېرې رایې وګټلې.

ورځپاڼه د خیبر پښتونخوا له وزیر اعلی پرویز خټک له قوله لیکي؛ چې وایي، سره له دې چې د عمران خان روغتیایي حالت ښه نه دی او سخته تبه لري؛ خو د مظاهره کوونکو په ډله کې حضور لري.

نوموړي هم له مظاهره کوونکو غوښتي چې؛ خپل هدف ته تر رسیدو پورې له مظاهرو لاس وانخلي.

اوباما:

راتلونکي کلونه به هم له افغانانو سره خپلو مرستو ته دوام ورکړو

کابل، پژواک:

* امریکا د افغانستان د ټاکنو پروسې پایلو ته سترګې په لار ده او د دغه هېواد له راتلونکي ولسمشر سره هر ډول همکاری کولو ته چمتو ده.*

دغه مطلب، د امریکا د ولسمشر بارک اوباما له لوري د هېواد د ازادی ورځې د ۹۵ تلین په مناسبت ولسمشر کرزي ته په رالېږل شوي مبارکی کې څرګند شوی دی.

په یاد پیغام کې ویل شوي، چې د امریکا د خلکو په استازیتوب؛ د افغانستان د ازادی ورځې د اخیستو د تلین په اړه، چې هر کال د زمرې میاشتې په ۲۸ مه نېټه نمانځل کېږي، تاسو او ټولو افغانانو ته مبارکي وایم.

په پیغام کې زیاته شوې، چې د روان کال په ترڅ کې د ښځو او نارینو په ګډون میلیونونو افغانانو د خپل برخلیک ټاکلو په موخه د ولسمشرۍ په تاریخي ټاکنو کې ونډه واخیسته او د یوه سوله ییز او ډیموکراتیک افغانستان لپاره یې خپله ژمنه او وجیبه پوره کړه.

په پیغام کې راغلي: "امریکا متحده ایالاتونه د ټاکنو د لړۍ پایلو ته سترګې په لاره ده او د افغانستان له نوي ولسمشر سره هر ډول مرستو ته چمتو ده او په راتلونکو کلونو کې به له افغانانو سره د دوی د هېواد د جوړولو په برخه کې خپلو مرستو ته دوام ورکړي."

۴۵ درصد آرای صندوق ها ...

آقای نور همچنان گفت:

روز گذشته تیم های کاری در کمیسیون مستقل انتخابات بیش از هشت صد و پنجاه صندوق را به شمول ۳۷ صندوق در بخش شمارش خاص، تفتیش و شمارش کرده اند که این رقم بزرگترین تفتیش در طول روند شمارش آرا بشمار می رود.

کمیسیون مستقل انتخابات افغانستان روند شمارش مجدد شش هزار صندوق آرا را که به اساس توافق تیم های انتخاباتی مشخص گردیده بود دیروز آغاز کرد.

اما دیده می شد که روند تفتیش و شمارش مجدد خاص در روز یکشنبه نسبت به روزهای گذشته به کندی به پیش می رفت.

مسوولان کمیسیون مستقل انتخابات با تایید این مساله می گویند مشخص کردن صندوق ها برای شمارش خاص مجدد و روند تفتیش آرا باعث این مشکل گردیده است.

در عین حال نور محمد نور سخنگوی کمیسیون مستقل انتخابات از کمیسیون شکایات انتخاباتی خواست تا فیصله های خود را در مورد ولایاتی که نتایج شان نهایی گردیده به کمیسیون بفرستد:

" کمیسیون مستقل انتخابات از کمیسیون شکایات انتخاباتی می خواهد ولایت های که فیصله های شان نهایی شده باید روان کند که در سیستم تطبیق شود و نتیجه شورا های ولایتی هر چه زود تر اعلام شود."

این در حالیست که کمیسیون شکایات انتخاباتی می گوید، روند تفیش و شمارش مجدد آرای شورا های ولایتی در بسیاری ولایات پایان یافته اما از برخی ولایات به شمول کابل هنوز هم ادامه دارد.

افغان بانکه والو ته د کانونو ...

"د افغانستان په ډېرش سلنه ځمکه کې د دري ټریلیونه ډالرو په ارزښت طبیعي زیرمې شته."

"په راتلونکو څو کلونو کې به افغانستان پر خپل اقتصاد تکیه وکړي او یو لوړ اقتصاد به ولري، خو خپل خواړه او رنځېدلي ولس ته زېری ورکوم چې نن تاسو یو ډېر ښه او غوره قانون لرئ او ان شاء الله دغه قانون کولی شي تاسو له هغو بدختیو راوباسي، چې په اقتصادي برخه کې هره ورځ ورسره مخامخ یئ، زموږ هېواد کې بېکاري بیخي ډېره شوې ده، په څو کلونو کې به بېکاري ختمه شي او خلک به دندې مومي."

د اقتصاد وزیر عبدالهادي ارغندیوال وايي د یوه امریکایي بنسټ له خوا شوې سروې ښيي چې د افغانستان په ډېرش سلنه ځمکه کې د دري ټریلیونه ډالرو په ارزښت طبیعي زیرمې شته.

هغه وايي په دغې سروې کې له ترکمنستان سره ګډې پولې ته نږدې د ګازو دوه سترې زېرمې نه دي شاملې.

د ښاغلي ارغندیوال په وینا د افغانستان د طبیعي زیرمو ارزښت تر اوسه له شویو اټکلونو ډېر لوړ دی.

د اقتصاد وزیر که څه هم وايي چې ددغو زیرمو تر لاسه کول ډېر وخت نیسي خو زیاتوي د کانونو قانون په عملي کېدو سره به افغانستان لس کاله وروسته د نورو هېوادونو مرستو ته اړتیا ونه لري:

"په لسو کلونو وروسته که چېرې دغه جوړه شوې اقتصادي پالیسي په دقیق او ښه ډول عملي شي، ډاډمن یم چې افغانستان به پر خپل ځان بو بسیا هېواد شي او د خپلو کورنیو تولیداتو پربنسټ به خپل راتلونکی ثابت او ډاډمن اقتصاد ولري."

د افغانستان د سوداګرۍ خونې مرستیال خان جان الکوزی که څه هم د کانونو قانون جوړل په دې برخه کې د پانګونې لپاره مخ په وړاندې ستر ګام بولي، خو ټینګار کوي چې د عملي کولو لپاره یې باید سالمه اداره رامنځته شي.

د افغانستان د کانونو قانون ۲۰ څپرکي او ۱۱۷ مادې لري، خو د ملي شورا یو شمېر غړي دغه قانون ډېر مخالفین هم لرل او د ډېرو ستونزو په ګاللو دغه قانون د ملي شورا له خوا تصویب شو.

د افغانستان د طبیعي زېرمو یوه برخه اوس د زورواکانو په واک کې ده، د کانونو او پټرولیم وزارت چارواکي د دغو زورواکانو له خوا یو شمېر کانونو په ناقونه او غیر مسلکي بڼه استخراجېږي.

قرارداد پروژه کاسا یکهزار ...

ولی نسبت به اینکه در دو هفته جانب پاکستان مشکل سیاسی داشت.

آنها نتوانستند در این سفر اشتراک کنند، به هفته اول ماه سپتمبر گذاشته شد آن قرارداد ها که امضا شود انشاالله ضرورت افغانستان از ناحیه برق تا دو سال آینده مرفوع خواهد شد."

آقای عالمی همچنان گفت که کاسا یکهزار پروژه انتقال یک هزار و سه صد میگاوات برق آبی از قرغزستان و تاجکستان به افغانستان و پاکستان است.

او گفت، با عملی شدن این پروژه سه صد میگاوات برق به افغانستان و یک هزار میگاوات برق دیگر از طریق این کشور به پاکستان انتقال خواهد شد.

قبل از این مقامات وزارت انرژی و آب افغانستان گفته بودند که قرار است کار عملی پروژه کاسا یکهزار در اوایل سال ۲۰۱۵ آغاز شود.

کارشناسان اقتصادی نیز تطبیق پروژه انتقال برق از قرغزستان و تاجکستان به افغانستان و پاکستان را از نظر اقتصادی بسیار مهم دانسته اما تاکید می کنند که برای عملی شدن آن، تامین امنیت شرط اساسی است.

سیف الدین سیحون استاد اقتصاد پوهنتون کابل در این مورد به رادیو آزادی گفت:

"آماده گی افغانستان در این جهت این است که باید شرایط امنیتی را برای عبور این خط و همچنین تمدید لین آماده داشته باشد و از نظر فنی و تخنیکی هم این آماده گی را داشته باشد که حد اقل کارگران و افرادیکه در این پروژه فعالیت می کنند آماده باشند."

اما مقامات شرکت برشنا افغانستان می گویند که نهاد های امنیتی افغان اطمینان داده اند که برای تطبیق این پروژه امنیت لازم را تامین خواهند کرد.

کارشناسان اقتصادی به این باور اند که با عملی شدن پروژه کاسا یکهزار بر علاوه مفاد اقتصادی که به افغانستان می رسد روابط امنیتی و سیاسی این کشور نیز با کشور های منطقه گسترش میآبد.

به گفته آنان افغانستان کوتاه ترین مسیر برای انتقال مواد تجارتی و ترانزیتی میان کشور های آسیای جنوبی و میانه شناخته شده است و حکومت این کشور باید از این موقعیت به نفع خود استفاده کند.

کارشناسان اقتصادی تاکید می کنند، اگر افغانستان بتواند شرایط مناسب را برای تطبیق پروژه های مانند کاسا یکهزار و تاپی فراهم کند سبب رشد سریع اقتصاد این کشور خواهد شد.

په ترافیکي پېښه کې ۳۳...

په یوه لارۍ موټر کې څلور کورنۍ له یوې سیمې څخه بلې ته د کډ کېدو په حال کې وې: «په یوه لارۍ موټر کې څلور کورنۍ سپرې وې چې یو ناڅاپه یې موټر یو لوی پاڼ ته ولوېد او سخته مرګ ژوبله رامنځ ته شوه.»

هغه وايي په وژل شوو کسانو کې ښځې نارینه او ماشومان شامل دي چې ۳۳ تنه یې ځای پر ځای وژل شوي او ۱۳ تنه یې ټپیان شوي دي، د ټپیانو یوشمېر یې به بادغیس او یوشمیر چې روغتیایي وضعیت یې خراب وو، د درملنې له پاره د هرات حوزوي روغتون ته لیږدول شوي دي.

د ټپیانو څلور تنه یې د قلعه نو په روغتون کې تر درملنې لاندې دي چې د درو تنو روغتیای وضعیت خراب ښودل شوی دئ.

دهرات ولایت د حوزوي روغتون ډاکټرانو هم ویلي دي چې ۹ تنه ټپیان دوی ته وروړل شوي دي چې د یوشمېر وضعیت یې د اندېښنې وړ دئ.

د بادغیس چارواکو ویلي دي چې یادې کورنۍ کوچیان ول چې له خپلو خړ خایونو څخه د اصلي مېنو پر لور روان ول چې لارۍ موټر یې یوه لوی پاڼ ته ولوېد.